
Fact Sheet AFGHANISTAN

UNEP

# د ملګرو ملتونو د اقلیم بدلون په اړه کنوانسیون (UNFCCC) ته د افغانستان دوهم ملي رپورټ (SNC) - (۲۰۱۶-۲۰۱۵)



افغانستان د ملګرو ملتونو د اقلیم بدلون کنوانسیون (UNFCCC) په ۲۰۰۲ کال کې تصویب کړې او خپله لومړنۍ رپورټ (INC) یې په ۲۰۱۲ کال کې رسماً سپارلې دی. د یوه وروستي ګام په توګه، د ملګرو ملتونو چاپیریال پروګرام (UNEP) او د چاپیریال ساتنې ملي اداره (NEPA)، د چاپیریال نړیوال تسیهیلات (GEF) په مالي مرسته تر (UNFCCC) لاندی د افغانستان د دوهم ملي رپورټ(SNC) ترتیبولو او سپارلو، او په ملي پراختیایی پالیسیو، پلانونو او ستراتیژیو کې د اقلیم بدلون لومړیتوبونو شاملولو په موخه، د هیواد تخنیکي او نهادي وړتیاوو د تقویت لپاره یو له بله سره مرسته کوي.

## د پروژې کلیدي نتایج:

۱. د افغانستان دوهم ملي رپورټ (SNC)

۲. د افغانستان لپاره د ګلخانه ای ګازونو یو تجدید شوې ملي موجودي

۳. د اقلیم بدلون سره د سازګارۍ یوه ستراتیژي.

٤. د اقلیم بدلون د کمولو یوه ستراتیژي.

٥. د اقلیم بدلون په اړه د افغانستان خلکو د پوهي زیاتول.

٦. د دولتی کارمندانو، مدنې ټولنو او نا دولتي سازمانونو، علمي نهادونو او خصوصي سکتور تر مینځ د معلوماتو د راکړې ورکړې او د همکارۍ زیاتول.

## د SNC ترتیبولو/برابرولو پروسه:

۱. د NEPA او UNEP لخوا د پروژې د مدیریت(PMO) لپاره د یو دفتر جوړول .

۲. د یوه مقدماتي ورکشاپ تدویر او د ارزوونې ملی ټیمونو(NSTs) تعینول.

۳. پر NSTs باندی نظارت او د SNC ترتیبولو لپاره د اقلیم بدلون ملي کمیټې (NCCC) تشکیلول.

٤. د دوهم ملي رپورټ(SNC) د ټولو ۱۲ ګونو برخو لپاره د کار طرز ټاکل.

٥. د SNC د رپورټ تحقیق تکمیل او لیکل، د تأیید لپاره NCCC ته استول او په پای کې UNFCCC ته سپارل.

## د پروژې پایلې:

د دې پروژې اساسي موخه افغانستان غښتلی کول دي تر څو وکولای شې چې UNFCCCته د دوهم ملي رپوټ (SNC) تیارولو له لاری خپل د رپوټ ورکولو مکلفیتونه د لاندینیو ۱۲ ګونو پایلو تر لاسه کول چې په دوهم ملی رپوټ (SNC) کې له۱۲ مطلوبو برخوسره تړلي دي، تر سره کړي.

## ملي وضعیت

- په افغانستان د اقلیم بدلون په اړه د شتومعلوماتو زیاتول.

## د ګلخانه ای ګازونو ملي موجودي

- د افغانستان د ګلخانه ای ګازونو د موجودۍ یو فهرست جوړولو لپاره د وړتیاوو تقویت.

## د اقداماتو یوه عمومی تشریح

- د اقلیم د اغیزو په اړه د افغانستان د وړتیاوو تقویت
- د اقلیم بدلون سببونو د کمولو په اړه د افغانستان وړتیاوو تقویت

## نور معلومات

- په ملي انکشافي اولویتونو کې د اقلیم بدلون شاملولو لپاره د وړتیاوو زیاتول.
- د اقلیم بدلون تکنالوژۍ په هکله د معلوماتو زیاتول.
- د افغانستان لپاره د اقلیم بدلون په اړه څیړنو او سیستماتیکو مشاهداتو په هکله د معلوماتو زیاتول.
- د اړوندو څیړنیزو پروګرامونو په اړه د معلوماتو زیاتول.
- د اقلیم بدلون په اړه د عامه پوهي زیاتول چې د رسینو له لارې، د اقلیم تعلیم پورې اړوند د پوهاوې او د پوهي عام کولو په یوه پروګرام باندی منتج شي.
- د ترینګونو او ورکشاپونو له لارې UNFCCC ته د رپورټ ورکولو لپاره د تخنیکی او نهادي وړتیاوو تقویت.
- د اقلیم بدلون اړوندو شبکو په اړه د افغانستان وړتیاوو لوړول او د نورو هیوادونو او سیمو سره د اقلیم بدلون معلوماتو شریکول.

تخنیکي اړتیاوې او وړتیا

- د UNFCCC او د کیوتو پروتوکول په پلې کولو کې د افغانستان محدودیتونو، نیمګړتیاوو او د اړتیاوو ارزوونه.

gef

**UNEP Afghanistan Programme Manager:** Andrew Scanlon – andrew.scanlon@unep.org www.unep.org/afghanistan www.ecobase.af